د کډوالو په هستوګنځی که تل هر څه هم ښه نه دی . تاسو  سره غیر قانونی چلند کیږی ، یا په هستوګنځی که ، دفترونو که او یا هم د ګاونډیانو سره ستونزی لری.
تاسی کولای شی مونږ ته زمونږ په کاری وختونو که راشی ، تاسی کولای شی مونږ سر تلفونی اړیکه ونیسی او یا هم پیغام او ایمیل راواستوی. مونږ تاسی سره اړیکه ټینګوو او هڅه کوو چه په ګډه ستاسو د ستونځو د اوارولو لاری چاری پیدا کړو.

آدرس :

Karl- Marx- Str. 98, 16816 Neuruppin

د دفتر کاری وختونه:

سه شنبه  د  ۱۰  نه تر ۱۸ بجو

تلفو ن او ایمیل ادرس:

Sven Jüppner, 0171/ 2264356, s.jueppner@estaruppin.de
Sophie Kunert, 0152/ 04913940, s.kunert@estaruppin.de
Daniel Krause, 0170/ 3134569, d.krause@estaruppin.de

مونږ د اوست پریګنیتز روپین د ښاروالی سره یو ځای یو خپلواک د شکایاتو د مدیریت سیستم جوړ کړی. مونږ په لیلیو او د کډوالو په هستوګنځیو که د کډوالو د اندیښنو ، ستونځو او اړتیاوو پوره  کولو یو باوری  دفتر یو. زمونږ موخه د تاوتریخوالی اغیزمن مخنیوی او د خلکو لپاره لا زیاد امنیت او خوندیتوب دی. ددی کار د تر سره کولو لپاره ، مونږ تاسو ته د هغه امکاناتو ، حقوقو او طرزعمل په اړه خبر درکوو ، چه د قانون په چوکاټ که موجود دی.
 زمونږ د شکایاتو د مدیریت خپلواک دفتر  په اوست پریګنیتز روپین که د تاوتریخوالی د مخنیوی یوه مهمه برخه ده.
باور د تاوتریخوالی د مخنیوی اغیزمن بنسټ دی. په همدی اساس مونږ د اوسیدونکو یوه فعاله سروی تر سره کوو.
موږ دا بحثونه په یخلنځایو ، دهلیزونو ، او شخصی کوټو که د دوو اړخیز باور په اساس تر سره کوو. مونږ غواړو دا پروسیجر ټولو ته وروپیژنو او یو د باور او اعتبار فضاء رامنځ ته کړو. په عین حال که موږ غواړو چه موجوده خنډونه او ستونزی روښانه او کار په وکړو.